التعليم فوق الجميع | education above all

# د دوکان تنظیم کول

| | |
|---|---|
| **توضیحات:** | په ښوونځي او یا هم کور کې زده کوونکي به اړینو توکو لپاره د کور له ځینو وسایلو څخه د دوکان جوړولو په موخه کار واخلي. زده کوونکي به هغو توکو ته چې غواړي په خپل دوکان کې یې وپلوري نومونه انتخاب کړي، تنظیم به یې کړي، او هغوی ته به قیمتونه وټاکي. |
| **مخکښه پوښتنه:** | تاسو به په خپل دوکان کې څه وپلورئ؟ |
| **د عمر ګروپ:** | د ۴ څخه تر ۵ کلونو پورې |
| **مضمونونه:** | ریاضي، سواد زده کوونه، هنر او ډیزاین |
| **ټولټال اړین وخت:** | په ۵ ورځو کې هره ورځ ۶۰ دقیقې |
| **خپله ځارل شوی/ تر ځارنې لاندې فعالیت** | ځارل شوی فعالیت |
| **د اړتیا وړ منابع** | پنسل، ورقه، رنګې، رسامۍ (اختیاري) |
| **د زده کړو پایلې** | • د خپل دوکان پلان کول او تنظیم کول<br>• د توکو ځای پر ځای کول<br>• د وخت په اړه پوهیدل<br>• د توکو رسم کول او نومول<br>• د پیسو په اړه پوهیدل او توکو ته قیمت ټاکل<br>• د خپل دوکان تنظیمول |

**لومړۍ ورځ:** زده کوونکي به ورځ د «هارون پلورنځي ته ځي» قیصې په اوریدلو باندې پیل کړي. زده کوونکي به ددې په اړه فکر وکړي چې څنګه خپل دوکان پلان او جوړ کړي. زده کوونکي به د خپل دوکان د توکو په ډیزاین کولو او ترتیب کولو باندې پیل وکړئ.


| وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | د قیصې د لوستلو سره زده کړې پیل کړئ. تاسو کولی شی چې د لاندې بریښنایې رابطې (لینک) او یا هم د ضمیمې «هارون پلورنځي ته ځي» څخه کار واخلی.<br><br>https://storyweaver.org.in/stories/255676-arun-goes-to-market.<br><br>له زده کوونکو څخه وغواړئ چې آیا هغوی تاسو ته ویلی شي:<br>• هارون او د هغه مور چیرته تلله؟<br>• کوم دوکانونه د هغوی په یاد دي؟ او هغوی څه توکي پلورل؟<br>• آیا د هارون مور د توکو د پیرلو لپاره پیسې ورکولې؟<br>• د هارون مور ټول اخستل شوي توکي په کوم ځای کې ایښودل؟ |

| | |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | ددې قیصې «هارون پلورنځي ته ځي» له لوستلو څخه وروسته له زده کوونکو څخه وغواړئ چې د خپل کوچنې دوکان جوړولو په اړه فکر وکړي. خپل دوکان به له هغو توکو څخه ډک کړي چې معمولا په کور کې ترسترګو کیږي. دا توکي کیدای شي په لاندې ډول واوسي:<br>خوراکي مواد لکه د لوبیاوو قوطی، جامې، د لوبو وسائل، د کور نور توکي لکه لوښي، قلمونه، پنسلونه او داسې نور.<br><br>**لارښوونه:** پلان کول د ژوند له اړینو مهارتونو څخه دی. زده کوونکي به له نوښت سره نوي لارې چارې د مختلفو شیانو د کارولو او  ترتیب کولو لپاره زده کړي. |
| | تاسو به له زده کوونکو سره د لاندې پوښتنو په ترسره کولو سره د هغوی د دوکان په جوړولو کې مرسته وکړی.<br><br>• کوم شکل دوکان تاسو غواړئ چې جوړ کړي؟ کوچنی او که ستر؟<br>• تاسو به په خپل دوکان کې کوم توکي پلورئ؟ لکه خوراکي توکي، د پاک کارئ وسایل، دوا، کالې، د لوبو توکي او داسې نور<br>• تاسو به خپل دوکان ته کوم نوم ورکړئ؟<br>• خلک به پیرل شوي توکي څنګه خپلو کورونو ته وړي؟ (په خلطو کې که په کارتنونو کې) |

| | |
|---|---|
| ۳۰ دقیقې | که چیرته زده کوونکي په کور کې وي، هغوی کولی شي چې د کور په انګړ کې ځینې توکي را غونډ کړي او یو د ځای پر ځای کولو فعالیت ترسره کړي:<br>تاسو کولی شی چې زده کوونکو ته وښایاست چې توکي د میز، څوکۍ، الماری او یا هم د ځمکې پر سر را غونډ کړي.<br>دا توکي کولای شی د یوې کټګورۍ په شکل را غونډ کړی. لکه:<br>• لکه تازه تولیدات (ترکاري، میوې، غوښه او هګۍ)<br>• په قوطیو کې بند خوراکي توکي (لوبیا، جوار، نخود، او داسې نور)<br>• د لوبو توکي (د لوبو خرسک، ګوډۍ، پلاستیکي موټرونه او داسې نور)<br>• جامې (یخن قاق، پتلون، او داسې نور)<br><br>که چیرته زده کوونکي په ښوونځي کې وي، تاسو باید هغوی ته یوه سپینه ورقه ورکړی ترڅو زده کوونکي پرې د هر هغو توکو چې دوی یې غواړي په خپل دوکان کې ولري، رسم کړي او په مختلفو کټګوریو یې وویشي. دوی کولای شي مختلف توکي لکه سبزیجات، میوې، د لوبو شیان، خوراکي مواد، جامې او داسې نور رسم کړي.<br> |

**دوهمه ورځ:** زده کوونکي د هغو توکو لپاره د لیبلونه (نومونو) په جوړولو پیل کوی چې دوی غواړي هغه وپلوري. زده کوونکي دې د دوکان د نوم په اړه فکر وکړي او د خپل دوکان لپاره دې یوه نښه ډیزان او جوړه کړي.


| وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|

<table>
<tr>
<td>۳۰ دقیقې</td>
<td>اوس چې زده کوونکو پریکړه کړې چې په خپل دوکان کې کوم توکي وپلوري، دوی کولی شي چې همدغو توکو ته لیبلونه د خوراکه فروشۍ په دوکان کې جوړ کړي.<br>زده کوونکو ته یوه ورقه ورکړئ او هغوی ته وواياست چې د توکو نومونه پرې ولیکي<br>• دوی به دا توکي د کوچنیو مربع شکلو په څیر پرې کړي<br>• زده کوونکي به د توکو نومونه ولیکي او تاسو به ورته په غبر جوړوونه کې مرسته وکړئ<br>که چیرته دوی تر اوسه لیکل نه شي کولای، له هغوی څخه وغواړئ چې د انځور لمړنی توری ولیکي<br>• لکه د میوې کلمه په (م) سره پیل کیږي<br>• د لوبو توکي په (ل) سره پیل کیږي<br>• جامې په (ج) سره پیل کیږي<br>لارښوونه: توکو ته نوم ورکوونه د لغاتونو، تورو او د تورو د غږونو د زده کړې لپاره یوه غوره لاره ده.<br><br><br></td>
</tr>
<tr>
<td>۳۰ دقیقې</td>
<td>په دې بل فعالیت کې، زده کوونکي به د خپل دوکان لپاره یوه نښه جوړه کړي. دا کیدای شي د زده کوونکو لپاره د هنر یو ښه په زړه پورې فعالیت واوسي.<br>• له زده کوونکو څخه وغواړئ چې یو نوم انتخاب کړي. ځینې نومونه ممکن د زده کوونکي نوم + دوکان واوسي لکه (د هارون دوکان)، یا کیدای شي چې د زده کوونکي د خوښې رنګ + دوکان وي لکه (زرغون دوکان)، او داسې نور.<br><br>• له زده کوونکو څخه وغواړئ چې د خپل دوکان نوم په یوه سپینه ستره ورقه باندې ولیکي. که چیرته هغوی لیکل نه شي کولی، له هغوی سره په لیکلو کې مرسته وکړئ. دوی کولی شي چې د ورقې په اول کې یو ښه صمیمي ښه راغلاست ولیکي.</td>
</tr>
</table>

| | |
|---|---|
| | • له زده کوونکو څخه وغواړئ چې په هر شکل چې د هغوی خوښه وي د خپل دوکان نښه جوړه کړي. دوی کولی شي چې د رنګو، پنسلونو، او یا هم د کچالو پواسطه خپلې نښې طراحې (ډیزاین) کړي. (لاندې بیلګه وګورئ)<br>• له هغوی څخه وغواړئ چې د هغو توکو انځورونه د نښې په شا او خوا کې رسم کړي چې د دوی په دوکان کې پلورل کیږي. (دا ټول مثالونه اختیاري دي. زده کوونکي کولی شي هرڅه چې هغوی غواړي رسم کړي.)<br><br> |

**دریېمه ورځ:** د ورځني کارونو د موضوع په واسطه زده کوونکي به د وخت لومړني مفهوم باندې پوه شي او وبه کولای شي چې ددې پریکړه وکړي چې د دوی دوکان به په کوم وخت کې پرانیستل کیږي او بندیږي. د پیسو د لومړنیو مفاهیمو په پوهاوي سره به زده کوونکي په دې پوه شي چې څنګه پیسې د توکو د پیرلو لپاره په یوه دوکان کې کارول کیږي. او دوی به پریکړه وکړي چې خلک به ددوی په دوکان کې په څه ډول پیسې جمع کوي.

| وخت | فعالیت او توضیح |
|---|---|
| **۱۰ دقیقې** | زده کوونکي به د خپل ورځني فعالیتونو په اړه فکر وکړي ترڅو د وخت په لومړني مفهوم ځان پوه کړي.<br><br>زده کوونکو ته روښانه کړی چې په یوه ورځ او شپه کې ۲۴ ساعته دي خو هغوی په دوو برخو ویشل شوي دي:<br>• مخکې له غرمې (AM): دا دورځې لومړنۍ برخه ده چې موږ ورته سهار وایو. مونږ په ۶ بجو له خوب څخه را پاڅیږو، د سهار ډوډۍ په ۷ بجو کې خورو او په ۸ بجو ښوونځي ته ځو. تاسو کولی شئ چې په ورځني فعالیت کې د زده کوونکو د وخت په اړه خبرې وکړی.<br>• وروسته له غرمې (PM): دا د ورځې دوهمه برخه ده چې ماسپښین، مازدیګر او ماښام یې برخې دي. موږ احتمالا د غرمې ډوډۍ په ۱۲ بجو کې خورو، له ښوونځي څخه خپل کور ته په ۲ بجو ځو، او ۸ بجې د شپې ویده کیږو. |




زده کوونکو ته روښانه کړئ چې موږ د ورځې په اوږدو کې (روټین )یو خاص د فعالیتونو تقیسم اوقات مخې ته وړو. د بیلګې په ډول، د خوبه پاځیدل، د سهار ډوډۍ خوړل، د غاښونو برس کول او داسې نور.

تاسو کولی شی چې زده کوونکو ته د هغوی د لا پوهاوي په موخه خپل د روزمره فعالیتونو خاص مهال ویش توضیح کړی.

- زه هر سهار په ۶ بجو له خوبه را پاځیږم.
- زه هر سهار په ۶ نیمو بجو د سهار ډوډۍ خورم.
- زه ۷ بجې خپلې جامې بدلوم او له هغه څخه وروسته خپل غاښونه برس کوم
- او بیا زه ۸ بجې د سهار خپلې دندې ته ځم.

له زده کوونکو څخه وغواړئ چې د خپلو ورځنیو فعالیتونو په اړه فکر وکړي. دوی څخه وپوښتئ چې دوی هغه مهال چې سهار له خوبه را پاڅیږي، څه کارونه ترسره کوي او دوی په ماسپښین کې څه کوي.

- له زده کوونکو څخه وپوښتئ چې لاندې فعالیتونه په کوم وخت کې ترسره کیږي:
  آیا تاسو پوهیږئ چې کله له خوب څخه را پاڅیږئ؟ د سهار ډوډۍ کله خورئ او جامې کله بدلوئ؟
  که چیرته هغوی د دغو فعالیتونو په اړه پوهیږي، نو هغوی کولی شی همدغه فعالیتونه د وخت سره رسم کړي.

که چیرته زده کوونکي په دې نه پوهیږي چې دوی په کوم وخت کې مختلف فعالیتونه ترسره کوي، له دوی څخه وغواړئ چې د هغو فعالیتونو رسامۍ وکړي چې دوی یې:

- د سهار په مهال ترسره کوي
- د ماسپښین په مهال ترسره کوي

مخکې له دې چې ورځ پای ته ورسوی، تاسو کولی شي چې درسونه د زده کوونکو په ۳ نفري ګروپ کې تکرار کړئ. او دوی به له خپلو ټولګیوالو څخه وپوښتي چې هغوی کله له خوب څخه را پاڅیږي، کله د سهار ډوډۍ خوري، کله د ماسپښین ډوډۍ خوري او کله ویده کیږي.

| | |
|---|---|
| | |

| | |
|---|---|
| | که چيرته دوی په کور کې وي، دوی کولی شي چې د کورنۍ له غړو څخه ورته پوښتنې وکړي.<br><br>اوس چې زده کوونکي د وخت په اړه ابتدايي معلومات لري، له هغوی څخه وپوښتئ چې د هغوی دوکان باید کله پرانيځل شي. په سهار کې؟ بعد له غرمې څخه؟ د سهار په ۸ بجو؟ او که د مازديګر په ۴ بجو؟<br><br>دوی به د خپل دوکان د پرانيستلو وخت د خپل دوکان د نوم او نښې خواته وليکي. |

<table>
<tr>
<td>۳۰ دقیقې</td>
<td>
زده کوونکي باید په دې وپوهیږي چې په دوکان کې ټول توکې خپل قیمتونه لري او وړیا نه دي. هرڅه چې دوی غواړي او یا هم ورته اړتیا لري معمولا د پیسو یو قیمت لري.<br><br>
<ul>
<li>تاسو کولی شی چې  خپله ورځ زده کوونکو ته د پیسو ابتدایې مفاهیمو په ښودلو پیل کړی. دا به له دوی سره مرسته وکړي ترڅو په خپل دوکان کې توکو ته قیمتونه وټاکي.</li>
<li>پیسې د راکړې او رکړې یوه وسیله ده. هرڅوک زړه ښه کوي چې د خدماتو او توکو په تبادله کې پیسې قبولې کړي. د بیلګې په توګه، که زه ډوډۍ غواړم، زه کولی شم هغه په پلورنځي کې واخلم مګر زه اړ یم چې دوکاندار ته یو څه ورکړم. زه کولی شم د هدمدغه توکې د پیرلو لپاره دوکاندار ته پیسې ورکړم.</li>
</ul>
<br>
په نړۍ کې مختلف قسم پیسې شتون لري. اکثر مملکتونه خپلې خاص قسم پیسې لري.<br><br>
که تاسو مختلفو پیسو ته لاسرسی لری، لکه د بانک نوټونه او سیکې، تاسو کولی شی هغه زده کوونکو ته وښایاست. او که نه یې لری، د لاندې انځورونو څخه استفاده وکړئ.<br><br>
[redacted]<br><br>
<br>
<br><br>
تاسو کلی شی زده کوونکو ته ووایاست چې ډیر پخوا خلکو پیسې د توکو د پیرلو لپاره نه کارولې. هغوی به د یو توکي په بدل کې بل توکی اخیسته. چې د پیرلو دې طریقې ته د بارټر طریقه ویل کیږي. د بیلګې په ډول که یو چا به ډیر ژوي درلودل نو د وریجو د اخیستلو لپاره به یې ژوي د وریجو لرونکي ته ورکول.
</td>
</tr>
</table>



د بارټر سیسټم د لا ښه پوهاوي په موخه، تاسو کولی شی لاندې فعالیت زده کوونکو ته وړاندیز کړئ.


- زده کوونکو ته ووایاست چې د دریو داسې توکو لیست جوړ کړي چې دوی یې لري. (لکه: ښه رسامۍ، مهربانه کلمې، یو توپ، د لوبو یو توکی، یوه سندره، او داسې نور). دوی کولی شي چې دا ولیکي او یا یې په لوړ غږ سره ووایي.
- او بل لیست د هغو دریو شیانو په اړه جوړ کړي چې دوی ورته اړتیا لري. (لکه: پنسل، د لوبو یو توکی، یو ګل او داسې نور).


دواړو لیستونو ته ځیر شی او له زده کوونکو څخه وغواړئ چې هغه مهارت په ګوته کړي چې هغوی یې کولی شي د لږ تر لږه یوه هغه توکي لپاره چې زده کوونکی ورته اړتیا لري او غواړي یې د پیرلو لپاره وکاروي.
ددوی لیست ته په کتلو سره کولی شی زده کوونکي په دوو ګروپونو وویشئ او ورڅخه وغواړی چې له یو بل سره د خرید او فروش معامله وکړي.

- د بیلګې په ډول، که دوی یو پنسل ته چې ددوی خوا ته له بل زده کوونکي سره وي اړتیا ولري، دوی کولی شي د یوې ښکلې نقاشۍ په بدل کې پنسل واخلي.

اوس چې زده کوونکي د پیسو وروکول په مختلفو طریقو پوهیږي، له هغوی څخه وغواړی چې دا په نظر کې ونیسې چې خلک به د توکو د اخیستلو لپاره ددوی په دوکان کې له کومو طریقو څخه کار اخلي. (بانګ نوټونه، سیکې او که د تبادلې توکي.) تاسو کولی شی دوی ته ووایاست چې په خپل دوکان کې خپلو توکو ته قیمتونه وټاکي او په راتلونکې ورځ کې کولی شي خپلې پیسې جوړې کړي.

**څلورمه ورځ:** زده کوونکي به هغه توکو ته قیمتونه وټاکي چې ددوی په دوکان کې ځای پر ځای شوي دي. دوی به همدا راز خپلې پیسې جوړې کړي او خپل درسونه به تکرار کړي.

| وخت | فعالیت او توضیحات |
| --- | --- |
| ۲۰ دقیقې | نن به زده کوونکي د قیمتونو لیبلونه جوړ کړي او توکو پورې به یې ونښلوي. له کوچنیانو څخه نشو کولای ددې توقوع وکړو چې د توکو په قیمت پوه شي چې څه قیمت ورته وټاکي، مګر دا فعالیت کولی شي له دوی سره په عدد پیژندنه کې مرسته وکړي.<br><br>● له زده کوونکو څخه وغواړئ چې ټول هغه رسمونه چې دوی د توکو لپاره رسم کړي دي را واخلي.<br>● له هغوی څخه وغواړی چې د مختلفو توکو د قیمتونو په اړه فکر وکړي او هغو توکو ته قیمتونه وټاکي چې دوی یې غواړي وپلوري. لکه: (د لوبو توکي د میوو څخه ډیر قیمته دي، نو دوی کولی شي چې د لوبې د یو توکي د پلورلو لپاره یو لوړ قیمت وټاکي او که چیرته دوی غواړي چې یوه مڼه وپلوري نو دوی باید یو ټیټ قیمت د هغې لپاره وټاکي.) |
| | ● دوی به د ورقو له کوچنیو ټوټو څخه د قیمت لیکلو لپاره  له ۱ څخه تر ۱۰ عددونو پورې کار واخلي او بیا به هغه قیمتونه د توکو د قیمت په حیث وکاروي.<br><br> |
| ۲۰ دقیقې | له زده کوونکو څخه وغواړی چې خپلې پیسې طراحي (ډیزاین) کړي. دوی به دغه پیسې د دوکان د پرانیستلو په مهال کاروي. دغه فعالیت د پریکولو مهارت لپاره د یو فرصت په توګه وکاروئ.<br>● یوه ورقه را واخلئ او هغه په مربع او مستطیلي شکلونو باندې پرې کړئ. هر قسم ډیزاین چې تاسو غواړی، کولی شی په دغو ورقو باندې یې جوړ کړی. او له زده کوونکو څخه وغواړی چې په دې ورقو باندې د هغوی د ارزښت لپاره قیمتونه ولیکي.<br>● اوس دې زده کوونکي سیکې جوړې کړي. زده کوونکي به کوچنۍ دایرې جوړې کړي او هر ډول یې چې وغواړي هغوی به ډیزاین کړي. لاندې بیلګه وګورئ.<br>● له دې پرته، زده کوونکي کولی شي چې د بوتلونو سرپوښونه، د جامو تڼۍ او یا وړې ډبرې د سیکو په حیث وکاروی. |

<table>
<tr>
<td>



</td>
<td></td>
</tr>
<tr>
<td>انتقاد او تکرار: له زده کوونکو څخه وغواړئ چې د ټولې ورځې فعالیت بیان کړي<br><br>
• د ښه راغلاست جملې، د توکو لیست او قیمتونه<br><br>
ښوونکی، والدین او یا هم د کورنۍ غړي کولای شي د لاندي اشاروي پوښتنو پواسطه دوی ته خپل نظر (فیډبک) ورکړي:-</td>
<td>٢٠ دقیقې</td>
</tr>
</table>

التعليم فوق الجميع | education above all

| | |
|---|---|
| | • تاسو به څه توکي وپلورئ؟ (د لوبو شیان، خوراکي مواد، جامې او که مختلف شیان) آیا ته غواړې چې کوم بل توکی هم په خپل دوکان کې اضافه کړې؟<br>• کوم ډول پیسې تاسو غواړې چې وکاروی (سیکه، کاغذي نوټونه، بارټر سیستم (د توکو په بدل کې بل توکی) وګورئ چې آیا تاسو نورو پیسو جوړولو ته اړتیا لرئ؟<br>• پیریدونکي به هغه شیان چې دوی یې پیري په څه شي کې ځای پر ځای کوي؟ (خلطې او که کارتنونه)<br><br>له زده کوونکو څخه وپوښتئ چې هغوی نور کوم توکي غواړي په خپل دوکان کې اضافه کړي. |


**پینځمه ورځ:** نن ورځ به زده کوونکي خپل دوکانونه پرانیځي. هغوی به د خریدارۍ یو لیست جوړ کړي او په هغو پیسو چې دوی جوړې کړې دي خریدارۍ ته ولاړ شي.

| وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | له زده کوونکو څخه وغواړې چې ټول هغه توکي چې دوی یې غواړي وپلوري د یوه میز او یا هم د ځمکې پر سر کښېږدي. دوی کولای شي چې دا توکي ترتیب کړي، قیمتونه ورته وټاکي او د ښه راغلاست نښه او پیسې ورته چمتو کړي.<br>دوی کولی شي چې خپله ورځ د یوې په زړه پورې لوبې سره پیل کړي: «زه کولی شم چې په خپلو وړو سترګو جاسوسي وکړم!»<br>• ښوونکی او یا هم د کورنۍ یو غړی به په داسې ویلو سره پیل وکړي چې «زه په خپلو وړو سترګو کولی شم د یو سور رنګي څیز جاسوسي وکړم»<br>• زده کوونکي به د خپل لاس په اوچتولو سره، سره رنګ لرونکي شیان لکه مڼه، مرچکیان، او سرې جورابې وښایي. دوی کولی شي چې همدغه لوبه په خپل وار سره ۴ یا ۵ ځله تکرار کړي. دا به له زده کوونکو سره د هغو توکو په پیژندلو کې مرسته وکړي چې پلورل کیږي. |
| ۲۰ دقیقې | اوس به هر یو زده کوونکی د خریدارۍ یو لیست جوړ کړي: د خریدارۍ او یا د خوراکي توکو لیست هغه لیست دی چې مور یې کولی شو د خریدارۍ په جریان کې ترې کار واخلو. زده کوونکي به د خریدارۍ له دغه لیست څخه د خپلو ملګرو په دوکانونو کې د خریدارۍ په مهال کار اخلي.<br>د خلکو په منځ کې دا ډیره عامه ده چې د خریدارۍ څخه دمخه د  هغو توکو یو لیست جوړ کړي چې دوی ورته اړتیا لري، او کله چې هغه توکي واخلي او په د توکو په کڅوړه کې یې واچوي، د هغوی په نومونو باندې د صحیح علامه وهي.<br><br>• له زده کوونکو څخه وغواړئ چې کوم توکي دوی غواړي له دوکان څخه وپېري؟<br>• له زده کوونکو څخه وغواړئ چې دا توکي په یوه ورقه کې رسم کړي او همدا راز هغوی وهڅوئ چې ځینې کلمې ولیکي او یا یې لږ تر لږه د یو توکي لومړني توري ولیکي. د لا معلوماتو لپاره لاندې بیلګې وګورئ:<br>اوس دوی چمتو دي چې خپل دوکان پرانیځي! |

| | |
|---|---|
| | اوس دوی چمتو دي چې خپل دوکان پرانیځي!<br> |
| ۳۰ دقیقې | **زده کوونکي به خپل دوکانونه پرانیځي!**<br>• له زده کوونکو څخه وغواړئ چې داسې یو ځای پیدا کړي چې دوی غواړي چې خپل دوکان هغلته پرانیځي<br>• دوی به ټول شیان سره منظم کړي او قیمتونه به ورسره ولیکي<br>• دوی به نخښه او د پرانیستلو وخت ولیکي<br>• له هغوی څخه وغواړئ چې هغه پیسې چې دوی جوړې کړې دي له ځان سره وساتي<br>که چیرته زده کوونکي په ښوونځي کې وي، تاسو کولی شئ چې ګروپ په دوه برخو باندې وویشئ. لومړی ګروپ به خرڅلاو وکړي (دوکاندار به وي)، او دوهم ګروپ به خریدار شي (مشتري). د خریدارانو ګروپونو ته به یاد کړئ چې خپل د خریدارۍ لیستونه له ځان سره واخلي ترڅو وګوري چې هغوی څه غواړي چې وپیري. همدا راز، دوی باید هغه پیسې چې د توکو د پیرلو لپاره یې چمتو کړې دي له ځان سره واخلي.<br>که چیرته دوی په کور کې وي، نو زده کوونکي به پلورونکي او د کورنۍ غړي به یې پیریدونکي (مشتریان) وي<br>• په خپل وار سره کله دوکاندار او کله مشتري شئ<br><br>زده کوونکي وهڅوئ چې د ښو اخلاقو څخه کار واخلي. هغوی باید ووایې چې سهار یا ماسپښین مو نیکمرغه. همدا راز دوی باید ووایې چې: مهرباني وکړئ، له تاسو څخه مننه او داسې نور.<br>هغوی ته وریاد کړئ چې ځینې داسې پوښتنې وکړي. ددې توکي ارزښت څومره دی؟ آیا تاسو مني لرئ؟ او داسې نور.<br><br>لکه د یو ریښتیني خوراکي توکو دوکان په څیر ددوی په دوکان کې باید د حساب کولو ټول توکې د اخیستلو په مهال موجود واوسي. |
| **د غني کوولو اضافي فعالیتونه** | که چې زده کوونکي د ۶ او یا د ۷ کلونو وي، دوی ته انالاګ ګړیو (ساعتونو) پیژندنه پیل کړئ. دا هغه عمر دی چې دوی به کې د وخت تیریدل، تیره زماني، اوسني زماني او د راتلونکي زماني په اړه ځانونه پوهوي.<br>د جمع او تفریق د عملیو په کولو سره به دوی خپلې پیسې وشمیرې. |

| | |
|---|---|
| **د ساده کوولو لپاره تغیرات** | زده کوونکي کولی شي د خپلو ورځنیو فعالیتونو له توضیح څخه ډډه وکړي. |

التعليم فوق الجميع | education above all




# هارون مارکیټ ته ځي


لیکوال: انیتا سلوینتان
انځورګر: ریجوتا غاتي



هارون او دهغه مور یو ځو خلطې ویوړې او د بهوت اچا مارکیټ ته ورسیدل. هارون وویل: دلته خو ډیر زیات دوکانونه دي



د هارون مور وویل: راځه چې د نڼې اونۍ لپاره سبزیجات واخلو. هغې یو کیلو رومیان او پیاز واخیستل، نیم کیلو کچالو او ګازرې، او کدو یې واخیستل



هغوی په مارکیټ کې وګرځیدل او د لوبو د سامانونو یو دوکان یې اخیستی دی. هارون وویل: مورې خیر دی یو د کریکټ توپ را ته واخله! زما توپ زوړ شوی دی. هغوی توپ واخیست او پیسې یې په کاونټر کې تأویلکړې




بیا، هغوی په مارکیت کې وګرځیدل او د سامانونو یوه  دوکان ته ورسیدل. مونږ کومو سامانونو ته اړتیا نه لرو. خو ما وغوښتل چې تا ته وښتایم چې په دې دوکان کې ډیر شیان شته دي.

التعليم فوق الجميع | education above all



هغوی په مارکیټ کې ګرځېدلو ته دوام وکړ تر دې چط د کبانو پلورنځي ته ورسیدل. د هارون مور وویل، زه نن ستا د خوښې تونه کب پیرم او تا ته یې پخووم. زه پوهیږم چې ستا دا کبان خوښیږي ځکه دا واړه هډوکې نه لري. هغوی یو کیلو تونه کب واخیست او په خپلې خلطې کې یې واچوه.



له دې څخه وروسته هغوی خوراکه فروشي ته ورسیدل. د هارون مور دوکاندار ته وویل، ۵ کیلو وریجې او ۳ پاکټه یو لیټره د آفتابپرست غوړي. هغه دوکاندار دا توکي په یوه خلطه کې ځای پرځای کړل او د هارون مور ورته پیسې تأویل کړي.



له دې څخه وروسته هارون او د هغه مور رخت فروشي ته ورسيدل. هارون وويل: مورې ما او پلار ته مې په يوه رنګ کې د پتلون ټوکر
وپيره. زما زړه دی چې زما د زوکړې په ورځ زما او زما د پلار جامې يو رنګ واوسي.




له دې څخه وروسته، هارون او د هغه مور د تيلو يو پلورنځي ته ورغلل او د هارون مور د ناريال يو ليټر تيل واخيستل.




په لاره کې دوی د لبنیاتو له یوه پلورنځي څخه هم تیر شول چې د شیدو څخه جوړ شوي تولیدات پکې پلورل کیدل.



په پای کې دوی د پلورنځیو د ساحي څخه په خوشحالۍ سره ووتل په داسې حال کې چې ټولې خلطې یې د شیانو څخه ډکې وې.